Deputy PM for Economic Affairs Office
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## (خبرپاڼه)

دویم کال- ۱۴۰مه ګڼه | پرله‌پسې ۲۸مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۴/۴/۱۹



په افغانستان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

## په دې ګڼه کې لولئ:

په ایکو سازمان کې د اسلامي امارت لومړنۍ رسمي ګډون؛ د سیمه ییز اتصال او پانګونې له پاره نوی فصل

# په ایکو سازمان کې د اسلامي امارت لومړنی رسمي ګډون؛ د سیمه ییز اتصال او پانګونې له پاره نوی فصل




د اقتصادي همکاریو سازمان (ایکو) ۱۷مه غونډه د اذربایجان جمهوریت په خنکندي ښار کې د جولای میاشتې له ۳-۴ پورې جوړه شوې وه. افغانستان، ترکیه، ایران، اذربایجان، پاکستان، ازبیکستان، تاجکستان، ترکمنستان، قزاقستان او قرغزستان د ایکو سازمان لس غړي دي. د افغانستان اسلامي امارت په لومړني ځل يادي غونډې ته بلل شوی و.

د ایکو سازمان د جوړېدو اساسي موخه د غړو هېوادونو اقتصادي پراختیا او پرمختګ دی. دغه راز، د سازمان ځانګړې موخې بیا د غړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ پروړاندې د خنډونو لرې کول، د سوداګرۍ او زیربنا پراختیا او نورې دي.

د سازمان په دې غونډه کې ډېر تمرکز د اقتصادي اړیکو په پراختیا، سوداګرۍ ته ودې ورکولو او د اقلیمي بدلون او دومداره انرژۍ په څېر ستونزو حل باندې و. دغه راز، ګډونوالو د سیمه ییز ثبات ملاتړ او د ډیپلوماسۍ له لارې د شخړو د حل ملاتړ وکړ.

د افغانستان اسلامي امارت استازي ته هم د ایکو په يادې غونډه کې د ګډون رسمي بلنه ورکړل شوې وه.

د اسلامي امارت په استازيتوب محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د يو پلاوي په مشرۍ په ياده غونډه کې ګډون وکړ. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال له عمومي غونډې وړاندې او وروسته د يو شمېر هېوادونو له ولسمشرانو، لومړي وزيرانو او مرستيالانو سره هم وکتل. دغه راز، يې د اذربايجان د باکو له نړيوال بحري بندر څخه هم ليدنه وکړه.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خپلو څرګندونو کې په افغانستان کې په بېلابېلو برخو کې په شويو پرمختګونو او د پانګونې په شته فرصتونو باندې رڼا واچوله. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د ايکو سازمان له غړو هېوادونو وغوښتل چې د سوداګرۍ، انرژۍ، ترانسپورټ، کرنې، چاپېريال ساتنې او اقليمي بدلونونو په برخو کې له افغانستان سره له نږدې کاروکړي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خپله وينا کې د سيمه ييز اتصال د پياوړتيا له پاره د لاجوردو لارې څخه د سوداګرۍ او ترانزيټ په موخه د عملي استفادې غوښتنه وکړه. د لاجوردو لاره چې له افغانستان څخه پيل او له ترکمنستان، اذربایجان، ګرجستان او ترکيې څخه تېرېږي او افغانستان او سيمه له اروپا سره نښلوي، د سيمه ييز اتصال يوه مهمه پروژه ده. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال نه يوازې د ايکو سازمان په عمومي غونډه کې، بلکې د غونډې په څنډه کې له ځينو مشرانو سره هم د يادې لارې د فعالېدو په اړه خبرې وکړې.

د لاجوردو تاريخي لاره کولی شي چې له اروپا سره د افغانستان سوداګري زياته او چټکه کړي. د دې لارې فعالېدل نه يوازې د افغانستان، بلکې د سيمې د ټولو هېوادونو په ګټه دي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خپلو خبرو کې د ايکو سازمان غړو هېوادونو ته په افغانستان کې په بېلابېلو سکټورونو کې د پانګونې بلنه ورکړه. د افغانستان اسلامي امارت له راتګ وروسته په هېواد کې د پانګونې له پاره ښه فرصت برابر شوی. په افغانستان کې د برېښنا، صنعت، کانونو، کرنې، ترانسپورټ او زيربنا په ګډون په ګڼو نورو سکټورونو کې د پانګونې ښه فرصتونه شته او د ايکو سازمان يو شمېر هېوادونه چې په ځينو برخو کې د پانګونې ښې تجربې لري، کولی شي چې خپلې تجربې له افغانستان سره شريکې او پانګونه وکړي.

د افغانستان اسلامي امارت ته په لومړني ځل د ايکو سازمان غونډه کې د ګډون رسمي بلنه ورکړل شوې وه او دا يو ښه فرصت و چې افغانستان د سيمې مهمو هېوادونو ته خپل دريځ، د اقتصادي همکارۍ، سيمه ييز اتصال او همغږۍ په تړاو خپل نظر او په افغانستان کې د پانګونې فرصتونه واضح او د هغوی توجه جلب کړي.

تمه کېږي چې په دې غونډه کې به د اسلامي امارت ګډون د سيمه ييز اتصال د پياوړتيا او د افغانستان د اقتصادي ودې لامل وګرځي او په بېلابېلو برخو کې به له افغانستان سره د سازمان د غړو هېوادونو همکاري زياته شي.